هفته نامه

# تحصیلات عالی

شماره یکصد و سی و سوم - سال هشتم- سرطان -۱۳۹۸ ه. ش



شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af

آدرس الکترونیکی: p.r_office@mohe.gov.af


## د لوړو زده کړو سرپرست د کابل پولي تخنیک پوهنتون پیشنهادي طرحه واوریده



## د ښوونې او روزنې لپاره د تحصیلي نصاب پر بیا کتنه او نوي کولو کار پیل شو



# د لوړو زده کړو سرپرست د کابل پولي تخنیک پوهنتون پیشنهادي طرحه واوریده

لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل پولي تخنیک پوهنتون رهبري پلاوي سره په لیدنه کې، د دې پوهنتون پیشنهادي طرحه واورېده او د یادې طرحې د تطبیق پر څرنګوالي بحث وشو.



د کابل پولي تخنیک پوهنتون پیشنهادي طرحه، د تحصیلي نظام په اصلاح او پیاوړتیا کې د تحصیلي بنسټونو نظرغوښتنې په موخه د لوړو زده کړو وزارت د لارښوونې پر بنسټ جوړه شوې ده.
په دې طرحه کې د تقنیني اسنادو پراختیا، پوهنتونو ته د اجرائیوي صلاحیتونو ورکړه، د اداري سیستم اصلاح، زیربناو جوړښت، الکترونیکي زده کړو پراختیا او په ورځنیو چارو کې د تقنیني اسنادو په پام کې نیول شامل دي.

د لوړو زده کړو سرپرست او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د یادې طرحې په اړه د کابل پولي تخنیک پوهنتون رهبري پلاوي توضیحات واورېدل او ویې ویل: " د دې اصلاحاتو اصلي موخې د اجرایي چارو په پرتله پالیسۍ جوړونه او نظارت کې د وزارت د ونډې زیاتوالی، اکاډمیک، اداري او مالي استقلالیت، د زیربناو پراختیا، په ورځنیو چارو کې د تقنیني اسنادو رعایت او تطبیق او د لوړو زده کړو وزارت د اداري سیستمونو سمون او پراختیا دي."



نوموړي زیاته کړه، په وروستیو دوو میاشتو کې پر ۱۰ نویو مقررو کار شوی او د یادو مقررو په غني کولو کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون او نور تحصیلي بنسټونو نظریاتو څخه ګټه اخیستل شوې. هغه وویل له نیکه مرغه د یادو مقررو مسودې د نورو اجراأتو لپاره عدلیې وزارت ته استول شوي دي.
عبدالتواب بالاکرزي وویل، هغه تحصیلي بنسټونه چې خپل نظریات یې لا تر اوسه نه دي استولي ژر تر ژره یې لوړو زده کړو وزارت سره شریک کړي تر څو پرې غور وشي .
لوړو زده کړ وزارت سرپرست وزیر وویل لوړو زده کړو وزارت هوډ لري د دغه وزارت تشکیلاتي او تحصیلي نظام د تقنیني اسنادو په رڼا کې د اوسنیو غوښتنو سره سم عیار کړي.

# د ښووني او روزني لپاره د تحصیلي نصاب پر بیا کتنه او نوي کولو کار پیل شو

د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ښووني او روزنې بېلابېلو څانګو(کیمیا، بیولوژي، ریاضي، فزیک، تاریخ، جغرافیه، اروا پوهنې او بدني روزنې) د تحصیلي نصابونو پر کلسترونو کار پیل شو.



هغه ورکشاپ چې په دې اړه د شهید استاد رباني ښوونې او روزنې پوهنتون کې جوړ شو، د لوړو زده کړو وزارت محصلانو چارو مرستیال، علمي پروګرامونو پراختیا رئیس، د ښوونې او روزنې څانګو استادان، خصوصي سکتور استازي، پوهنې وزارت متخصصین او د تحصیلي نصاب ملي کمیټې مسوولین ګډون کړی.

د لوړو زده کړو وزارت محصلانو چارو مرستیال پوهاند بری صدیقي وویل تحصیلي نصاب د زده کړو مهم او ټولیزه پانګه ده او هرڅومره دغه پانګه غني او معیاري وي په همغه اندازه به د ټولنې له غوښتنو سره سم متخصص کادرونه وروزل شي.



پوهاند صدیقي زیاته کړه لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي نظام معیاري کولو په موخه د تحصیلي نصاب پر بیا کتنه او اصلاح جدي کار پیل کړی، چې له امله به یې د سیمې او نړۍ په کچه منل شوی تحصیلي سیستم رامنځته شي.

د علمي پروګرامونو پراختیا رئیس پوهنمل زبیر صدیقي وویل لوړو زده کړو وزارت د یو ملت او یو نصاب تر نامه لاندې د تحصیلي نصابونو بیا کتنې او پراختیا پروګرام له لارې د ټولو دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو لپاره یو واحد تحصیلي نصاب رامنځته کړی.

نوموړي وویل په تېرو وختونو کې هم د تحصیلي نصابونو پر بیا کتنه او معیاري کولو کار شوی و خو دا ځل د نصاب په بیا کتنه کې د اکاډمیکو بنسټونو ترڅنګ د اړوندو خصوصي ادارو او د بازار غوښتنه هم په پام کې نیول شوي دي.



ورپسې د شهید استاد رباني ښوونې او روزنې پوهنتون رئیس ذبیح الله اسدي او څو تنو استادانو په خپلو خبرو کې د تحصیلي نصابونو په بیا کتنه کې د ملي او نړیوالو ارزښتونو په پام کې نیولو او د نړیوالو تجربو څخه په ګټې اخیستنې ټینګار وکړ.



# وزارت تحصیلات عالی امتحان بورسیه های تحصیلی کشور قزاقستان را اخذ کرد

از ۱۱۹ تن داوطلب بورسیه های کشور قزاقستان در مقاطع دکتورا، ماستری و لیسانس امتحان رقابتی اخذ گردید.



این امتحان با حضور دکتور بری صدیقی معین امور محصلان، سید عالم رحمتی رییس ارتباط خارجه و تنظیم بورسیه ها، معاون سفیر قزاقستان در کابل و بانو گلچهره نمایندۀ وزارت تحصیلات عالی آن کشور برگزار گردید.

پوهاند دکتور بری صدیقی معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی، ضمن ابراز سپاس و قدردانی از کشور قزاقستان، بورسیه های آن کشور را برای ارتقای ظرفیت جوانان مهم خواند و آنان را به تلاش جدی برای درس خواندن و خود شگوفا شدن برای خدمت در آینده افغانستان توصیه کرد.

همچنان دکتور بری صدیقی از آنان خواست تا به تمام شئونات اجتماعی، عناصر و نماد های ملی و فرهنگی کشور میزبان احترام داشته باشند.



سید عالم رحمتی رییس ارتباط خارجه و تنظیم بورسیه ها جوانان افغان را نمایندۀ فرهنگ، نوع نگاه و شیوۀ زیست افغانستان در کشور میزبان خوانده و با یاد آوری از شفافیت در روند امتحان گفت که از میان (۱۱۹) اشتراک کننده، دو تن در مقطع دکتورا، ۱۲ تن در ماستری و ۱۴ تن دیگر در مقطع لیسانس راه پیدا خواهند کرد.

همچنان بانو گلچهره نماینده وزارت تحصیلات عالی کشور قزاقستان، از تعهد قزاقستان مبنی بر تداوم روابط تحصیلی و همکاری بیشتر از پیش در زمینۀ فراهم کردن بورسیه های تحصیلی برای جوانان افغان خبرداده و گفت که کشورش علاقه مند امضای تفاهم نامه های جدید همکاری در بخش های تحصیلی با افغانستان است.



# په خصوصي تحصيلي بنسټونو کې جندر ستراتيژۍ پر تطبيق بحث وشو



دغه خبره د خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسسو رئيس پوهندوی محمد امير کامول په هغه ناسته کې وکړه چې د بېلابېلو خصوصي تحصيلي بنسټونو جندر برخې مسوولينو په ګډون په لوړو زده کړو وزارت کې جوړه شوې وه.

محمد امير کامول وويل په تحصيلي بنسټونو کې د جندر ستراتيژۍ او جنسيتي ځورونې د مخنيوي پاليسۍ د تطبيق له مخې چې د لوړو زده کړو وزارت مهم لومړيتوب دی؛ د خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسسو رياست هڅه کوي، چې د ټولو خصوصي بنسټونو په تشکيلاتي جوړښت کې د جندر برخې ډيپارټمنټونه رامنځته او پياوړي کړي.

په خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسسو کې د ښځينه محصلانو او کارکوونکو لپاره د مصؤنې فضاء په رامنځته کېدو سره په دغو بنسټونو کې د ښځينه و په جذب کې د پام وړ زياتوالی راغلی.





نوموړي زياته کړه: خصوصي موسسات د محصلانو، استادانو او کارکوونکو په برخو کې د جنسيتي برابرۍ لپاره فعاليت کوي او خصوصي پوهنتونو رياست يې په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

ياده غونډه کې د جندر په چارو کې د لوړو زده کړو وزارت سلاکارې ډاکټر عايشه نورزۍ د جندر په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت د لومړيتوبو، پروګرامونو او فعاليتونو په اړه معلومات ورکړل.

په ناسته کې د لوړو زده کړو وزارت جندر آمرې ملکه قاسمي د يادې ناستې موخه د جندر په برخه کې د خصوصي تحصيلي بنسټونو او لوړو زده کړو وزارت ترمنځ د همغږۍ زياتوالي وباله او په پوهنتونو کې يې د جنستۍ برابرۍ، آزار او ځورنې د مخنيوي په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت پر فعاليتونو خبرې وکړې.



همدارنګه غونډې ګډونوالو ته د جندر په برخه کې د ځواب ويونکې بودجې(GRB) په اړه معلومات ورکړل شو.

په دغه ناسته کې د خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسسو جندر برخې مسؤولينو په خپل وار سره، په اړوندو بنسټونو کې د جندر د وضعيت په اړه راپورونه وارول او خپل نظريات يې شريک کړل.

# ننګرهار پوهنتون کې د چابهار سوداګریز بندر د ارزښت ارزونې علمي سیمینار جوړ شو

په نوموړي یو ورځني علمي سیمینار کې، چې د هېواد د خپلواکۍ سلمې کلیزې په ویاړ د دې پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په نوښت جوړ شوی ؤ، د ننګرهار پوهنتون د مشرتابه او استادانو سربېره پکې د خصوصي پوهنتونونو مسوولینو، سوداګرو، مدني فعالانو او په ننګرهار کې د پاکستان او ایران قونسلګریو استازو او ډیپلوماتانو برخه لرله.



وروسته د اقتصاد پوهنځي استادانو هر یو پوهنوال حمدالله نظامي د چابهار بندر پېژندنې، پوهاند محمد بشیر دودیال د چابهار بندر او د نن ورځې اقتصادي او منطقوي مسایلو، پوهنیار سردار نعیم حکیم زوی افغانستان ته د چابهار بندر اقتصادي ارزښت او پوهنیار محمد صادق رهنما د چابهار بندر پر وړاندې د شته خنډونو او فرصتونو په اړه خپل پریزنټیشنونه وړاندې کړل او د ګډونوالو پوښتنې یې ځواب کړې.

په ننګرهار کې د پاکستان اسلامي جمهوریت جنرال قونسل عابدالله د دغه ډول سیمینارونو او غونډو جوړول ګټور ګام وباله او دا چاره یې په سیمه کې د اقتصادي پرمختګ او یووالي لپاره د خلکو ذهنونو د روښانه کولو تر ټولو ښه لاره وګڼله.

د سیمینار د پرانیستې پر مهال د ننګرهار پوهنتون رئیس پوهنمل ډاکتر یحیی فهیم د چابهار بندر پر اقتصادي ارزښت خبرې وکړې او نړیوالو اوبو ته د افغانستان لاره موندل یې د حکومت ستره لاسته راوړنه وبلله.

نوموړي زیاته کړه: په هېواد کې د شته ناخوالو یو عمده لامل اقتصادي ضعف دی، چې د چابهار بندر لار، لاجوردو لار او نورې سترې ملي، سیمه ییزې او نړیوالې اقتصادي پروژې مو له دغه کمزورتیا او ناوړه حالت څخه ژغورلای شي.

# ورکشاپ آگاهی دهی از قانون در پوهنتون تخار دایر شد

به پیشواز از صدمین سالگرد استرداد استقلال کشور، ورکشاپ آگاهی دهی از قانون در پوهنتون تخار تدویر یافت.

در این ورکشاپ سه روزه در رابطه به قانون منع تبعیض، آزار و اذیت زنان و اطفال و پالیسی منع تبعیض، آزار و اذیت جنسیتی زنان در نهاد های تحصیلات عالی به اشتراک کنندگان معلومات ارایه می گردد.

این ورکشاپ از سوی پوهنتون تخار به ابتکار مدیریت عمومی جندر این پوهنتون، به حمایت بنیاد آقا خان و به همکاری تخنیکی ریاست صحت عامه تخار برای ٦۰۰ تن از استادان، کارمندان و محصلان این پوهنتون تدویر گردیده است.




پوهنوال سعدالدین سعیدی معاون علمی پوهنتون تخار راه اندازی چنین برنامه ها را که جنبه آگاهی دهی و آموزشی دارد، برای همه اقشار جامعه به خصوص قشر پوهنتونی مهم و ارزنده تلقی کرده تاکید نمود که زندگی بشر بر اساس قانون تنظیم گردیده و آگاهی از قانون از ضرورت های مبرم انسان ها به شمار می رود.

معاون علمی پوهنتون تخار در صحبت های خویش راجع به استرداد استقلال کشور و کارنامه های شاه امان الله خان غازی نیز معلومات ارایه نمود و از سهم گیری نهادهای همکار جهت تدویر این ورکشاپ قدردانی کرد.